لیکوال: هانس کریستیان اندرسن

ژباړن: آصف بهاند


۲۰۱۵/۱۰/۰۷

# د سمندر وړه ښاپيرۍ

## (Den lille havfrue)

## څلورمه برخه

د سمندر زړې ښاپيرۍ و ويل:«نه! دا کار هغه وخت کيدای شي چې يو نارينه پر تا باندې داسې مين شي چې له مور پلار نه هم ورته ګرانه شې او هغه له خپلې ټولې مينې او احساس سره تا پورې اړوند شي. کله چې هغه تا ته لاس در کوي چې د تل له پاره به تا سره وفا دار پاتې کيږي، کشيش د هغه ښی لاس د تا پر لاس ږدي، هلته دی چې د هغه روح به ستا په تن کې ننوزي او ته به وکولای شې چې د انسانانو په نيکمرغيو کې شريکه شې. هغه کولای شي چې د خپل روح د لرلو تر څنګه تا ته هم روح در وبښي؛ خو هيڅکله به داسې و نه شي. ستا دغه ماهي لکۍ چې موږ ته د سمندر په تل کې ډيره ښکلې ده، د مځکې پر مخ دا ښکلې شی نه دی. د مځکې پر مخ انسانان احساس نه لري. د دې له پاره چې ته ښکلې و ګڼل شې، ته بايد دوه بد ترکيبه پايې ولري چې پښې نوميږي!»
وړې ښاپيرۍ آه و ايسته، ټيټه شوه او په خواشينۍ سره يې خپلې لکۍ ته وکتل.
زړې نيا و ويل:«پريږده خوشاله اوسو، د درې سوو کلونو ژوند په اوږدو کې موږ کولای شو د اوبو د څپو په منځ جګ والوزوو او بيا بيرته په اوبو کې ځان وغورځوو. زه داډه يم چې دا وخت زموږ له پاره ښايسته ډير وخت دی. وروسته له هغه به په خپل مړستون کې په نيکمرغۍ سره آرام وکړو. نن شپه په ماڼۍ کې د ګډا محفل لرو.»
داسې شان او شوکت هيڅ کله هم د مځکې پر مخ نه و ليدل شوی. د ګډا د لوی تالار ديوالونه او چت، له ډبلې صافې شيشې نه جوړ شوي وو. د سالون، يو بل ته مخامخ ديوالونو باندې د ګل په شان د صدپو په سلګونو پوښونه اېښودل شوي وو، د چمن په څير شنې او ښايسته ټوټې را زوړندې شوې وې، له هغو نه لکه له اور نه چې شنې لمبې جګيږي، اوبو ته ورته داسې شنې وړانګې جګيدې چې ټول تالار يې رڼا کاوه او له کړکيو نه د باندې داسې ځليدې چې سمندر يې هم له رڼا سره ښايسته کيده. شيشه ای ديوالونو ته نږې، بې شميره لوی او واړه کبان په لمبلو ـ لمبلو روان وو چې ځينو يې ارغواني فلسونه درلودل او د ځينو فلسونه بيا داسې ښکاريدل لکه چې له سپينو او سرو زرو نه جوړ شوي وي.
د ګډا د لوی تالار په منځ کې له اوبو ډکه مسته سورروره وياله روانه وه چې په هغې کې د سمندر نارينه او ښځې خپلو ښکلو سندرو ته ګډيدل. داسې غږ د نړۍ پر مخ هيڅ انسان نه درلود او د سمندر وړې ښاپيرۍ تر ټولو ښې سندرې ويلې. کله چې هغې خپلې سندرې پای ته ورسولې، ټولو لاسونه ورته وپړقول، ښاپيرۍ پوهيده چې دا په مځکه او سمندر کې د تر ټولو ښه غږ لرونکې ده، ځکه يې يوه شيبه په خپل زړه کې د خوشالۍ احساس وکړ، خو ډير ژر يې د پاسنۍ نړۍ خيالونه پر ذهن باندې پرده وغوړيدله. هغې نه شول کولای چې ښکلی شهزاده او د هغه په شان د تلپاتې روح د نه درلودلو وير هير کړي، نو کله چې ټول د سندرو ويلو او مزو په حال کې وو، پټه د پلار له ماڼۍ نه و وته او په خپل وړوکي بڼ کې غمجنه کيناستله.

هغې واوريدل چې د اوبو له منځ نه د سُرنی غږ راځي. وړې ښاپيرۍ له ځان سره و ويل:«اوس چې شهزاده د اوبو پر مخ په سفر روان وي، هغه څوک چې ما ته له مور پلار نه ډير ګران دی، هغه څوک چې هر کله زما په ذهن او فکر کې وي، غواړم د خپل ژوند نيکمرغي مې هغه ته وسپارم. زه به هر څه وکړم، تر څو شهزاده او تلپاتې روح




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

تر لاسه کړم! کله مې چې خویندې د پلار په ماڼۍ کې په ګډا سر وي، ، سره له دې چې تل د سمندر له کوډګرې نه ډاره شوې یم، زه به هغې ته ورشم، ښايي هغه له ما سره مرسته او لار ښوونه را ته وکړي.»

وړه ښاپیرۍ له بڼ نه و وته او د هغه ځپاند ځرخاو(ګرداب) خوا ته ولاړه چې د هغه شا ته سحر ګرې ژوند کاوه. وړه ښاپیرۍ له دې نه پخوا هیڅکله دې سیمې ته نه وه راغلې. په دې سیمه کې هیڅ ډول ګیاه او ګل وده نه کوله، یوازې د خړو شګو یوه لار تر ځپاند ځرخاو پورې غځیدلې وه. ځرخاو داسې و لکه د لویې ژرندې په ځرخونو کې چې اوبه ښکته پورته کیږي، هر څه چې په لاس ور تلل، ځب ـ ځب کول یې او په خپل ژور تل کې یې ننه ایستل. د همدې توپاني، تاوده او ځپاند ګرداو په شا کې چې سحر ګرې خپل خوسا ډنډ ګاڼه، د سحر ګرې کور و. وړه ښاپیرۍ باید ور نه تیره شوې وای، ځو د کوډ ګرې د اوسیدو سیمې ته رسیدلې وای. بله لار نه وه، د سمندر د زړې کوډ ګرې کور، د خوسا ډنډ شا ته، د عجیب ځنګل په منځ کې و، چیرې چې ونې او بوټي د غټو ډارونکوو جسمونو په څیر چې نیمایي یې د ګیاه او نیمایي یې د ځاروي په بڼه و. دې ګیاوو د سل سرو مارانو ډاروونکې بڼه درلوده چې د سمندر له تل نه را شنې شوې وې. دې بوټو جګې سرېښناکه ځانګې او د چنجیو په څیر پستې ګوتې درلودې. هر بوټی له ریښې تر پاسنۍ برخې پورې د دایمي خوځیدا په حال کې و. د دې ګیاوو ګوتې به چې هر څه ته ورسیدې، کلکې به ور نه تاو شوې او له حرکت نه به یې غورځول.

د وړه ښاپیرۍ زړه له ډاره درزیده او په ډاریدونکې بڼه د همدې ځنګله په وره کې ودریده، لږ پاتې وو چې بیرته وګرځي، خو د شهزاده او د هغه تلپاتې روح په باب یې سوچ وکړ چې دې یې تمه درلوده، بیا زړه وره شوه، خپل اوږده ویښتان یې سره تاو کړل، چوټي یې کړل او له سر نه یې په دې موخې را تاو کړل چې بلا ته ور ته سرېښناک بوټي یې له ویښتانو نه را ګیره نه کړي. بیا یې خپل لاسونه کلک په خپل ټټر پورې ونښلول او لکه یو تر ټولو ګړندی کب په اوبو کې ښکته لاړه. کله کله به بلا ته ورته بد رنګه پستو سرېښناکه بوټو خپلې تاویدونکې ګوتې او مټې د هغې خوا ته ور غځولې. وړې ښاپیرۍ لیدل چې بلا ته ورته سرېښناکه او پستو بوټو به څنګه خپل ښکار کړي شیان په خپلو پستو مټو سره لکه اوسپنیز بندونه کلک نیولي وو. انسانان چې په سمندر کې مړه شوي او تر اوبو لاندې شوي وو، سپین هډوکي یې د همدې بلا ته ورته ګیاوو په مټو کې بند پاتې وو. د کشتۍ ځرخونه او د ماڼو ګانو صندوقچې د ځمکنیو ځارویوو له سکلیتونو سره د هغوی په بند کې وو، همداسې یې یوه وړوکې سمندري ښاپیرۍ نیولې او خپک کړې وه. دا منظرې دې ته تر ټولو ډیرې ډارونکې وې. په پای کې د یاد ځنګله په منځ کې له ختو او چیکړو ډک، پراخ ځای ته ورسیده. د ختو په منځ کې غټو او غوښنو مار ماهیانو داسې لوبې کولې، ته وا د خپلو بد رنګه ژړو سپینو نسونو ښودل کوي. د همدې ځای په منځ کې یو کور و چې د ډوبو شوو خلکو له هډوکو نه جوړ شوی و. زړه سحر ګره ناسته وه او یوې چونګښې د هغې له خولې نه داسې څه شی خوړل، لکه انسانان چې له خپلې خولې نه کنري ته خواړه ورکوي، زړې سحر ګرې بد رنګه مار ماهیانو ته، چې خپل واړه چورګوړي یې بلل، اجازه ور کوله چې د هغې په غټې، اسفجي سینې باندې وغځیږي.

د وړې ښاپیرۍ په لیدو سره، سحر ګرې و ویل:«پوهیږم چې څه غواړې، لیونتوب او ساده ګي ده! زما ښکلې شاهزادګۍ، سره له دې هم ته کولای شې خپلې هیلې او غوښتنې ته ورسیږې، خو بد مرغي به در په برخه کړي. غواړې چې له ماهي ډوله لکۍ نه دې خلاصه شې او په بدل کې یې د ونو دوې کندې ولرې څو وکولای شې د انسانانو په څیر ولاړه شې چې شهزاده پر تا باندې مین شي او ته وکولای شې چې هم شهزاده او هم تلپاتې روح تر لاسه کړې!»

سحر ګرې په داسې شریرانه او لوړ غږ وخندل چې په غیږ کې یې ناستې چونګښې او کبان له ډار نه لاندې ختو ته و غورځیدل. سحر ګرې د خندا په ځپو کې و ویل:«په سم وخت راغلې یې، سبا ته یې ښه وخت دی، کله چې لمر راخیژي، یو څه به درته وکړم، پرته له دې باید یو کال انتظار وباسې. زه یو شربت در ته جوړوم، سبا سهار، مخکې له دې چې لمر را وخیژي، ته به د سمندر هغې خواته لاړه شې او د سمندر په څنډه کې به کینې او زما جوړ کړی شربت به وڅښې. وروسته له هغه دې لکۍ په دوو برخو سره بیلیږي چې انسانان ورته ښکلې پونډۍ وايي، خو د درد(خوږ) احساس به وکړې، داسې درد لکه چې تیره توره دې په وجود کې ننوزي. ټول هغه انسانان چې تا و وینې، نو وبه وايي چې ته د انسان تر ټولو هغه ښکلې ماشوم یې چې تر نن پورې چا نه دی لیدلی! ته به داسې ځانګړې ښکلې حرکات ولرې چې هیڅ هنرمند به تا غوندې ښکلي پر لارې باندې تګ و نه شي کړای، خو ته چې هر قدم اوچتوې، داسې به وي لکه پر تیره تیغ چې روانه یې او ښايي وینه دې تویې شي. که دا ټولې ستونزې پر ځان باندې منلی شې، زه کولای شم تا سره مرسته وکړم.»

وړې ښاپیرۍ د شهزاده او تلپاتې روح د تر لاسه کولو په هیله په ریږدیدونکي غږ و ویل:«هو!»

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زړې سحر ګرې و ویل:«خو دا په یاد ولره چې که یو ځل د انسان د وجود په څیر بدن پیدا کړې، بیا به هیڅکله هم د سمندر په ښاپیرۍ بدله نه شې! ته به هیڅکله و نه شې کړای چې تر اوبو لاندې خپلو خویندو ته او یا هم د خپل پلار مانۍ ته ور و ګرځې.
که ته د شهزاده په مینه کې بریالۍ نه شې او شهزاده و نه شي کړای چې ستا په خاطر خپل مور پلار هیر او په ټوله مانا پر تا باندې داسې مین شي چې امر وکړي چې کشیش ستاسو لاسونه یو بل ته ور کړي، څو ښځه میړه شئ؛ ته به هیڅکله تلپاتې روح پیدا نه کړې. کله چې هغه له بل چا سره واده شي، په لومړني سهار به ته زړه ماتې شې او وجود به دې د اوبو د مخ په ځګ بدل شي.»
د وړې ښاپیرۍ رنګ نه چې د مړي رنګ جوړ و، وې ویل:«هوکې زه یې غواړم!»
زړې ښځې و ویل:«خو ته مجبوره یې چې ما ته څه راکړې او زه څه لږ شی نه غواړم. د ټولو هغو کسانو په منځ کې چې د سمندر په تل کې ژوند کوي، ته ښکلی غږ لرې. فکر کوم چې ته به دا غږ ځانته د شهزاده د پام د اړولو له پاره وکاروې، خو ته به تر ټولو خپل ښه شی، یعنې خپل غږ ما ته را کړې. زه به په بدل کې تا ته قیمتي شربت در کړم او خپله وینه به هم ور سره ګډه کړم، چې هغه له دوه څنډې توري نه هم لا تیز او تند کړي!»
وړې ښاپیرۍ و ویل:«که ته زما غږ واخلې، نور به څه را ته پاتې شي؟»

د څلورمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ